مورچل

نهم کال یوولسمه، پرلپسې ۸۷ یمه ګڼه،محرم- صفر۱۴۳۷هق، نومبر۲۰۱۵م

دکابل دچارواکیو کاذب سیاست!!

دناټو دپریکړو زور اوبه شوی !!

نادیده استخبارات ...او مزدوري رسنۍ!!!... ؟

فتوحات اخیر نماینګر یکپارچګی وقوّت مجاهدین میباشد

دناټو دپریکړو زور اوبه شوی !!

په نړیوال کچه دجګړې اصل اړخونه !

مور ولې په اسلامي امارت عاشقان یو ؟

د هیواد د زخمونو یوکمنام طبیب وفات شو

دشهید قاري فضل الله (سلیم) پر جهادي ژوندځوکربښې!

د مورچل مجله



نهم کال یوولسمه، پرلپسې ۸۷یمه ګڼه، محرم/صفر/۱۴۳۷هـق، نومبر ۲۰۱۵م

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	د کابل دچاروا کیو کاذب سیاست	۱
۲	دامریکا دامنیتي ترون ترځنګ دناټو دماموریت...	۳
۳	نادیده استخبارات...او مزدوري رسنۍ!!....؟	۵
۴	دناټو دپریکړو زور اوبه شوی!!	۹
۵	اسلامي امارت دبښنې ورپرانیستی دی	۱۱
۶	فتوحات اخیر نماینګر یکپارچګی وقوت.....	۱۳
۷	په زابل کې دجګړې اصل اړخونه!	۱۵
۸	دجهاد فقهي مسائل؛ تبیین یا دکفارو پروپاګنډې..	۱۹
۹	ایدز دیرغل یوه بله کرغیړنه ډالۍ	۲۳
۱۰	دابه نو وروستی جګړه وي	۲۵
۱۱	مونږ ولې په اسلامي امارت عاشقان یو	۲۸
۱۲	دهیواد دزخمونو یو ګمنام طبیب وفات شو	۳۰
۱۳	به هوش باش! دشمن معیارها را تعویض میکند	۳۳
۱۴	دمورچل دارالافتاء	۳۵
۱۵	دشهید قاري فضل الله (نسیم) پر جهادي ژوند.....	۳۹
۱۶	ددعوت ارشاد، جلب او جذب کمیسیون	۴۵
۱۷	جنګي جنایتونه	۴۷
۱۸	دامارت پیغامونه	۵۰
۱۹	دمورچل وړمې	۵۱

علمي، سیاسي او جهادي میاشتنۍ خپرونه

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکور (شفق)

کتنپلاوی

حسن خپل — ایوب صافی
حسن زوی — حکمت بغلانی
زبیر مسافر — حافظ سعید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحیم

دکابل دچارواکیو

کاذب سیاست!!

سږني پسر لي کې داسلامي امارت دمجاهدینو کفر لږزوونکیو بریدونو دکابل داداري دچارواکیو اوددوئ داشغالګرو بادارانو پښې ولږزولې او دومره یې وراخطاکړي، چې دیوه عصبي ناروغ غوندې په اوتو بوتو سر دي ، دمجاهدینو پرلپسې ګوزارونو پرې دویرې خپسه کښینولې ،د نفسیاتي ماتې دپټولوپه خاطر ولس اونړۍ ته ددرواغو ویلو او لاپو شاپو پرته بله نسخه نلري ، دوئ چې دجنګ په عملي ډګر کې یې روحیات له لاسه ورکړي او شکست یې خوړلی،زیاته هڅه کوي چې دماتې په توپاني څپوکې ډوبیدونکې بیړۍ ته دنجات لاره پیدا کړي او دکاذبو ډډورو په خپرولواو دمجاهدینو په لیکوکې ددرځ او نفاق اچولو په پایله کې خپل ځان ته دخلاصون لاره وموميا!

دخپلې ماتې دپټولو لپاره کله وایي، چې دطالبانو په لیکو کې ژور اختلافات پیداشوي او(خدای ج مکړه)جهادي لیکو کې یې درځ راغلی ،کله وایي چې طالبانو په دې اوهغه ځای کې ولسي وګړي وژلې ،کله وایي چې داسلامي امارت په یوموټې صف کې انشعاب راغلی ،کله وایي (خدای ج مکړه)داسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین ملا اخترمحمد منصور حفظه الله په کومه داخلې شخړه کې ژوبل شوی او یا په شهادت رسیدلی او کله وایي چې طالبان نور له جګړې څخه ستړي شوي، غواړي چې په اصطلاح له کمزورې دریځ څخه دکابل دګوډاګیانو سره سوله ایزې خبرې وکړي او...او.....

خو حقیقت کې دا ددښمنانو پرپاګند او دوخت مرور به ددې پرپاګندچیانو اصلي ځیره لاپسې بربنډه کړي، داسلامي امارت په جهادي لیکو کې داختلاف ،انشعاب اودرځ په باب هیڅ کوم توثیق شوی سند یا لاسوندتراوسه چا ندی ښودلی او نه دیوځو ګوتو شمیر افرادو خفګان ته څوک په سیاسي نظامونو کې اختلاف یا انشعاب وایي ،داسلامي امارت دزعامت په هکله

دځينو مغرضو کړيودښمنانه څرګندونې د عاليقدر اميرالمؤمنين په يو غږيز پيام سره دومره بې بنسټه ثابتې شوې ، چې ورسره دکابل دچارواکيو او غربي رسنيو کاذب شفافيت او بې پريتوب هم تر جدي پوښتنې لاندې راغی ،او ترکومه ځايه چې د ډيالوګ سوله ايزو خبرو متنازع فيه موضوع ده ،نو پدې باب خو داسلامي امارت دريځ ډير څرګند اوډاګيز دی ،اسلامي امارت دشريعت داصولو او افغاني روايتوپه رڼا کې د خپل هدف شرعي نظام د اقامې او اشغال د پای ته رسيدو په موخه سياسي هلې ځلې هم کوي، خو هيڅکله داسلامي اقدارو او ملي ګټو پر سر له چاسره سودا ته تيار ندی!

په مجموع کې داډول بې بنسټه تبليغات دکابل دواکمنو دوارخطايې نښه ده او ددوئ په کاذب حکومتي تشخص ، متزلزله او پرديپاله حکومتولۍ دلالت کوي ، چې له دې پرته چې په خپل ځان او کاواکه اداره باندې خپل مورال بايللي عسکر او مليشې نورې هم بدګمانه کړي، بله کومه اغيزمنه ګټه به ورته ونه رسوي!

اسلامي امارت دخپلو معقولو جهادي او تبليغاتي تګلاروپه خپلولو سره، تل اسلامي او انساني ټولنه کې خپل وزن او وقار ساتلی او په ډيرو داسې بې بنسټو ادعاوواو تبليغاتو يې خوله چوپ کړې او چيرته يې يو نيمه ډډير ې اړتيا پر وخت ځواب کړې ،دجهاد لاره چې تل اغزنه او اختلافات دانساني طبيعت يو لاينفک جزء دی ،اسلامي امارت پداسې احتمالي مواردو کې، ورته معقول حل لټولی او بل لورې ته يې تړې سرايت ندی کړی ،خو دکابل دواکمنو ددې دروغجنو ډنډورو څخه داسې ښکاري، چې مجاهدينو تړې لاره ورکه کړي ،دوئ عصباني شوي اونور ددې وس نلري، چې خپله شړيدلې اداره بيرته کوشير کړي ،دولس او نړۍ دپام اړونې او دخپلو خامیو يا تشو دپټولو لپاره وخت نا وخت داسې بې بنسټه تبليغات په لار اچوي او لدې لارې نه دولس لاس له ګريبانه ليرې کوي.

مونږپداسې حال کې چې داډول تبليغاتي دروغ دکابل دادارې او ددوئ دبادارانودعدم بقاء وروستۍ سلګې بولو، پر څښتن تعالی باوري يو، چې ډير ژر به داسې کاذبې ځيرې رسوا او دشرعي محاکمې ميزته راکش شي.

د امریکا دامنیتي ټرون ترځنګ دناټو

د ماموریت غزول څه په ډاګه کوي؟!

د روان میلادي کال د دسمبر د میاشتې په لومړۍ نیټه د ناټو د بهرنیو چارو وزیرانو د بلجیم په پلازمینې بروکسل کې پریکړه وکړه چې د ۲۰۱۶ کال تر پایه پورې به خپل ۱۲۰۰۰ پوځیان په افغانستان کې پریږدي.

سره له دې چې تیرکال د دسمبرد میاشتې په پای کې د ناټو ځواکونو په افغانستان کې خپل پوځي ماموریت پایته رسیدلی اعلان کړ، خو سږکال د دیسمبر د میاشتې په نیټه یې د خپلې مخکینۍ پریکړې په خلاف بیرته په افغانستان کې د ۱۲۸۰۰ پوځیانو د بیرته پاتې کیدو اعلان وکړ.

اوس پوښتنه داده چې له امریکا سره د امنیتي ټرون د لاسلیکولو ترځنګ په افغانستان کې د نورو ۵۵۰۰ امریکایي او ۱۲۰۰۰ د ناټو ځواکونو پاتې کیدل د کوم قانوني سند او معاهدې له مخې تر سره کیږي؟

ایا د ټرون له مندرجاتو بهر په افغانستان کې د اضافي امریکایي او ناټو ځواکونو پاتې کیدل خپله د امریکایانو لخوا د یاد ټرون نقض نه ګڼل کیږي؟

ایا امریکایانو په یاد ټرون کې کابل رژیم ته د دې صلاحیت ورکړي چې د ټرون له موادو څخه د تخلف په صورت کې پرهغوی اعتراض وکړي او یاهم امنیتي ټرون فسخ کړي ؟

داچې د ټرون له لاسلیکولو راهیسې ډیرځله امریکایي ځواکونو پر ولسي وګړو او حتی دولتي ځواکونو بمبارونه وکړل چې له امله یې په لس ګونو کسان مړه او ژوبل ژول خو د رژیم چارواکو نه ورباندې اعتراض وکړ او نه یې هم د امنیتي ټرون د فسخ کولو جرئت.

له دې څخه دا جوتيږي چې پر دوي باندې د امريکايانو لخوا لاسليک شوی ټرون قانوني ټرون نه ، بلکې يوه اجباري وثيقه ده چې د هغې ټول صلاحيتونو او مصلحتونه يواځې امريکايي لوري ځانته تفويض کړي او جانب مقابل يې د هغوی پر منلو مجبور او ملزم کړی.

همدا لامل دی چې امريکايان د ياد ټرون د مندرجاتو برخلاف وخت ناوخته خپلې استراتيژۍ بدلوي ، کله چې يې د دوی شرائط ايجاب کړي د ځواکونو د ايستلو او کله بيا هم د هغوي د بيرته پاتې کولو پريکړې کوي .

هغوي دا پريکړې هم په مستقلانه ډول د ځان له خوا کوي او د کابل رژيم مزدور چارواکي يې په مقابل کې د هيڅ ويلو توان نه لري.

واقعيت دادی چې د افغانستان موجود بحراني وضعيت او د هغه د مجاهد ولس لخوا د ير غلګرو په مقابل جهادي مقاومت دلته ميشت اشغالګر له سختې وار خطايي سره مخ کړي .

هغوی ۱۴ کلنې ملاماتوونکې جګړې او د مجاهدينو په لاس د زرګونو اشغالګرانو وژل کيدلو او لسګونو زرو نورو ژوبلېدلو اوس له داسې مشکل سره مخ دي چې نه په افغانستان کې د پاتې کيدو او نه له هغه څخه په مکمله توګه وتلو ته زړه ښه کولای شي .

همدا لامل دی چې د کال په سرکې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ايستلو او د هماغه کال په پای کې د بيرته پاتې کولو پريکړې کوي .

و به کتل شي چې په افغانستان کې دامريکايانو او ناټو دغه مترددې پريکړې ددوي لپاره څه ګټه لرلای شي؟

دم ګړی خو چې په افغانستان کې څه ليدل کيږي هغه د اشغالګرو په مقابل کې د مورال لرونکو مجاهدينو ښکاره بريالیتوب او دهغوي په مقابل کې د خارجي اشغالګرو او دهغوي د مزدورو ځواکونو ښکاره ناکامي ده .

الحمد لله علی ذلک وهو خير الناصرين.

لیکنه: موسے فرهاد

نادیده استخبارات ...

او مزدوري رسني!!!... ؟

لنډکی مقدمه ...

تاریخ پوهان وایی چې له دویمي نړیوالي جګړې وروسته ، د ابر قدرتونو په نوښت په نړۍ کې یو شمېر آساسي او پیچلي بدلونونه رامنځ ته شول ، چې د درېیمي نړۍ وروسته پاتي هیوادونه هم اکثراً د هغوی په لومو کې جبراً را ایسار شول.

-- د هغو بدلونو له جملې نه دا وو چې د ډېرو هیوادونو ، جغرافیایي جوړښت تغیر وکړ یعنی ځینی ملکونه چې پر لویه ځمکه به آباد وو ، هغوی پر وړو وړو توټو وویشل شول ، لکه عربي نړۍ چې پخوا په حجاز ، شام ، مصر او عراق کې را منحصره وه خو وروسته وروسته څه د پاسه ۲٤ یا ۲٦ واړه ملکونه ځینې جوړ شول .

-- دویم بدلون دا وو چې د حکومتولۍ په سیستم کې دیموکراسۍ عملاً د دیکتاتورۍ ځای اشغال کړ ، دا کار که څه هم د ځینو لپاره د خوښۍ لامل شو خو استعماري ځواکونو بیا د ځان په خیر ونه ګانه ، ځکه په دې سره د خلکو استقلال حتمي بنه غوره کوله او دا د قدرتمندو په ګټه نه وه ، بیرته یې د هغه شکل په دې ډول وربدل کړ چې په ښکاره د هیواد نظام او رهبري د عامه وګړو په واک کې وي خو په حقیقت کې یې واکمن دوی نه ، بلکې هغه حساسي او خفیه اداري وي ، چې په یو نه یو ډول د ښکیلاکګرو د ګټو که په کلي ډول ساتندوی نه وي ، مخالف خو یې لږ تر لږه نه وي .ځکه چې د همغو ابر قدرتونو په تمویل او تبلیغ د دغو استخباراتي ادارو د خفیه واکمنۍ لپاره زمینه سازي شوې وي .

--درییم بدلون دا وو چې د آزادو رسنیو سیستم ایجاد شو ، په ظاهره خو دا د دې لپاره وو چې خلک به خپل غږ اوچتوي او خپل حق به ترلاسه کوي ، مګر واقعیت داسی نه و بلکې د همغو خفیه واکمنو د پلانونو د پلي کولو لپاره وي چې په حقیقت کې د استعمار آله کار وي.

نن سبا چې په نړۍ کې مور او تاسو وینو د تاریخ لیکونکو دا ډول خبري بیخي رښتیا بریښي .دا ځکه چې د امریکا په مشرۍ د نورو نړیوالو کفري ځواکونو پلان همیشه دا وي چې هیوادونه تجزیه کړي ، د مسلمانو خصوصاً کمزورو ملکونو استخبارات د پیسو په زور د ځان کړي ، او بیا د همغوی په مټ پر مسلمانانو خپل استعماري پلانونه ، کفري آیډیالوژي او غربي کلچر تحمیل کاندي ، همدا یې ترټولو ستره ارزو وي . په افغانستان کې یې عیناً همدا لوبه پیل کړې .

-ملي امنیت او رسنۍ ...

اشغالګر او تیري کوونکي کفار که څه هم پخپله د ځان لپاره هرڅه معیاري غوره کوي یعنی استخبارات یې د ځان لپاره داسي عیار کړي وي چې له هره اړخه د خپلو خلکو ، خپلو نظامونو او خپلې جغرافیې د ساتنې وړتیا لري؛ دا راز رسنۍ هم .

خو پر مسلمانانو یې بیا داسی خلک مسلط کړي وي چې هغوی په هیڅ معیار پوره نه وي . فقط د دوی د مزدورۍ او غلامۍ لپاره ښه آماده وي ، د دې ښلګه په افغانستان کې د امریکا په لاس درامنځ ته شوي ګودااګي اداري ، ملي امنیت ، او د کابل آزاده میډیا ده .

دا دواړه مستقیماً د امریکایي اشغالګرو په تمویل او ترزیق پر افغانانو مسلط شوې نامطلوبه اداري دي .د کابل ملي امنیت یا جاسوسي اداره ، د معیار له پلوه دومره کمزوري ده چې همیشه یې پلانونه خونسا نیمګړي او له رسوایی سره مخ وي. دا خو پریږده چې دوی به ابتکارات کوي ، د پټو پلانونو پر بنسټ به د هیواد ساتنه کوي ؛ بلکې له هرڅه نه دومره ناخبره وي؛ چې مجاهدین یې په مرکزي دفتر کې اسدالله خالد ورته والوزوي . پر پارلمان په ږنا ورځ بریدونه وکړي ، پر هوایي ډګرونو ، د اشغالګرو پر دفترونو ، پر وزارتونو او نورو حساسو ځایونو په سلګونو ځله بریدونه ترسره کوي ؛ دوی وربانديي خبر هم نه وي، له لویو زندانونو څخه په زرګونو بندیان مجاهدین په داسی پیچلو پلانونو آزادوي چې د دوی) استخباراتو (په دماغ کې

لا نه ورتيريږي . ولي له پيښې وروسته بيا دوی را ولاړيږي پر بې ګناه خلکو د مجرمينو تاپې لګوي او تر بيلابيلو غير انساني تعذيبونو لاندې يې نيسي .

-د دوی کارنامه..

د دوی ستره کارنامه دا وي چې په دروغو داسي يوه آوازه د ځينو مزدورو رسنيو په مټ خپره کړي چې يونيم ساعت وروسته وربانديږ رښتيا شي او په شرمونو وشرميږي .حالانکه استخبارات هيڅکله داسی خبره تر هغو پوري نه کوي چې ۱۰۰ ٪ فيصده يې يقيني نه کړي . حتی ځيني وختونه خبرونه قصداً پټوي ، که څه هم د دوی په ګټه وي او سل په سلو کې رښتيا هم وي ، مګر د کابل دګوډاګي اداري ملي امنيت چې په فيسبوک کې خبر واوري هم يې يو شيبه وروسته خپروي چې ، ګويا داسی کارنامه يې انجام کړه .

د کندوز د نيولو له پيښې څخه ملی امنيت بيخي خبر نه و ، ترڅو چې خبره ډېره لويه او عامه شوه . بيا يې هم په سهار آوازه خپره کړه چې د طالبانو د کندوز والي او د هغه معاون مو وژلي دي .تر دې چې والی صاحب ملاعبدالسلام په خپل برغ کې د خپل شهادت خبره رد کړه .

-د کابل دجاسوسي اداري تازه خبر..

پرون يې د ميدان وردګ د والي مرستيال عبدالله سرحدي د وژل کيدو خبر د سرخط ورځپاڼي له لاري خپور کړ چې ګويا هغه په خپل منځي شخړه کې وژل شوی ،) سرخط (د ملي امنيت په پيسو څو بې لاري او بداخلاقه ځوان هلکان چلوي چې په هغو کې يو د سيدشاسقيم په نامه دی او ويل کيږي چې مسئول يې هم دی دی.

په دې کار سره د کابل د ګوډاګي سيټ آپ استخباراتو او د امريکايانو مزدورو رسنيو خپل حيثيت له ښه ذلت سره مخ کړ . له بلي خوا د اشرفغنی د مرستيال ويانډ هم د ارګ له ادرسه په دروغو خپل بيانونه ورکوي او د رسنيو ځينو مزدور ماموران په اصطلاح شنونکي بيا خپلې شننې او تجزيې وړاندې کوي ، دا په داسی حال کې ده چې د طالبانو د مشر په اړه چې کومه د دروغو بې آساسه ډرامه نشريږي ؛ اصلاً هيڅ پيښه رامنځ ته شوي نه ده . پخپله عبدالله سرحدي وايی چې زه ژوندی يم او له خپل مشر منصور صاحب سره مي هيڅ خبره نه راغلي او

نه به راشي . له دې سره سره بیا هم د کابل نادیده استخبارات د خپلو نام نهاده رسنیو په مټ بې سنده خبر نشروي ؛ دا د دې ښکاره دلیل دی چې دا ډول جاسوسي ادارې څومره کمزوري او غیر معیاري دي او اشغالگرو ځواکونو بیا هم پر یو مستعمره هیواد مسلط کړي وي ، رسنۍ چې دغه ډول ښکرور دروغ په ښه وثوق سره خپروي چې د ارگ له ادرسه هم د تصدیق ټاپه ورباندي لگوي ، او بیا نیم ساعت وروسته رښتیا کیږي ، نو په دې سره د گوډاگۍ ادارې ، د هغي د جاسوسي ارگان او مزدوري میډیا څیره له ورایه څرگندیږي چې دوی څومره په هغه تول پوره دي چې له نړیوالو معیارونو سره د همغږۍ خبري کوي . او د یرغلگرو د عزایمو اټکل هم ورځینی کیدای شي چې هغوی د خپلو گوډاگیانو په اړه څومره سنجیده دي ، چې دا ډول نادیده استخبارات یې ورباندي مسلط کړي او دروغجني غیر معیاري رسنۍ یې په واک کې ورکړي!... ؟

دوقار پکړۍ

مولوي ولي الله ذهین

ها د پردو مسئله اوس لا هم لاینحل پرته ده
دوطن ناوي لا رنځوره پر اجل پرته ده
زلمو دخدای په لحاظ اور دنفاق مه بلوئ
دتېر تاریخ صحنه مې اوس هم پر گوگل پرته ده
داستشهاد دزلمو لاس به دې گریوان ته پریوزي
دهر شهید وینه دې لار کې پل په پل پرته ده
دبوري کونډي آه شهید پوري تر عرشه درومي
دقبر خاوره یې لا اوس هم په اوربل پرته ده
پلار یې شهید لور یې له لوږي په ژړا کې مړه شوه
قبر ته پړ مخي ماشومه پر څنگل پرته ده
پر خپل مسیر مستقیم اوسه دذهین جانانه !
ستا دوقار پکړۍ لا اوس هم ول په ول پرته ده

دناټو دپريکړو زور اوبه شوی !!

لطیف عزم

دناټو دبهرنیو چارو وزیرانو په ورستی ناسته کې چې دبلجیم هیواد په پلازمینه بروکسل کې ترسره شوه ، له افغانستان سره یې دخپلو نمایشي مالي مرستوپه تعهد سربیره چې تر۲۰۲۰ کال پوري به دوام ورکوي ، اعلان وکړ چې د۲۰۱۶ کال ترپایه به خپل ۱۲ زره پوځیان هم هلته ساتي.

امریکا اوناټو فکر کړی وو چې افغانستان څو لسیزو ناورینونو او ویجاړونکو جګړو کلک ځپلی او افغانان یې خدای مکړه له همت او میړانې غورځولي ، نو چې هر څه امریکا

اوناټو غواړي، دخپل وحشت اوډالرو په مرسته به یې هلته په ډیرې اسانی ترلاسه کړي او دتل لپاره به افغانستان دیوې مستعمرې په ډول په خپلو ناولو پنجو کې وساتي

خو دالله تعالی په خاص عنایت اونصرت ناټو او امریکا ته دتیرو ۱۵ کلونو په اوږدو کې دیوشمیر افغان نما څیرو څخه علاوه دقاطع افغان ولس غرور او استقامت نښه ور په ډاګه شو ، په دې معنا چې دامریکا ټولې ستراتیژی اودناټو دسرمشریزو ټولې افغان دښمنه پریکړې یې یو په بل پسې له کار وغورځولې ، مجهز لښکر او مجرب جنرالان یې له شکست اورسوایي سره مخ کړ او بلاخره یې له هغوی دالاره ورکه کړه چې په کوم هنر او تکتیک له افغانستان څخه ځان وباسي .

دکابل پرسوده رژیمونه دومره ذلیل ، رسوا او خندني وو اودي چې خپله مامورینو اومعاش خورو ته یې هم دمنلو وړ نشول ، هغوی په وازکومي وایي چې کابل رژیم تر دو غوړونو په فساد او درغلیو کې ډوب اوهیڅ ډول کفایت نلري ، ځکه دیورژیم مشروعیت چې دامریکا دبهرنیو چارو دوزیر پریکړې پورې تړاوو ولري اوهغه یې ټاکنه اوتشکیل وربرابروي ، له دغه رژیم اوپه اصطلاح دولت څخه به خلک دکوم خیر او فلاح هیله ولري ، همداډول یوځوک چې ځانته دولت او حکومت وایي او هغه دکابل ښار امنیت او په ولایتونو

کې ددولتي ودانيو او ادارو امن او دفاع نشي خوندي کولای، نو دعام ولس غوښتنو او اړتياوو ته به څه ځواب ووايي.

ددغه کاواکه رژيم لپاره صرف اوصرف د ناټو دغه ناستي پاتي دي چې کله جوړي شي اودافغانستان په باب دهمکاريو څه وعدې وکړي نو بيا دکابل چارواکي ديوځه مودي لپاره سره وغوړيږي او تبليغات پيل کړي ، چې مونږ دبهبود اوسمون په خوا روان يو ځکه چې نړيوالې ټولنې بيا خپل تعهد له افغانستان سره تازه اوتجديد کړ چې يواځې به يې نه پريږدو .

خو ولس دومره هم ندي ساده چې له ۱۵ کلونو ورسته هم په دې خبره نه پوهيږي چې ناټو او امريکا کومي مرستي دکومو موخو لپاره له افغانستان سره کړي او افغانانو ته يې کومه ګټه او نفع رسيدلي .

که په رښتيا هم دامريکا اوناټو مرستي او دخواخوږی تعهد له افغانانو سره وای او افغانانو يې عملي نتيجي ليدلي وای ، ولې به اوس له افغانستان څخه په ميلونو خلک اروپا اونوري دنيا ته په تيښته او فرار کې وو ، داټول ددې خبرې دليل اولوی ثبوت دي چې ناټو او امريکا څومره مصرف او لګښت په افغانستان کې کړی هغه يې دافغانانو دبربادی ، وژلو اوپه ډول ډول ناورينونو کې داخته کولو په نيت کړی.

پرون دبروکسل په ناسته کې چې ناټو کوم تعهد وکړ چې د۲۰۲۰ کال ترپايه به هرکال افغانستان ته ۴ ملياردې ډالر ورکوي، خلک به دافکر کوي چې ناټو دافغانستان او يا کابل اداري غم اخيستي ، خو دالمان دبهرنيو چارو وزير مولر ، داخبره خپله په ډاګه کړ چې اروپايي ټولنه دمهاجرينو له هجوم سره لاس اوګريوان ده، چې په دې برخه له افغانستان څخه هم دنا امنيو او بې کاريو له امله زرګونو فاميلونو يواځې المان ته راغلي او يا راوان دي ، ددې لپاره چې افغانان ددې خبري احساس وکړي چې نړيوالې ټولنې له افغانستان څخه لاس ندی اخيستی بايد دپراخو مرستو اعلان ورسره وشي ، چې لږ ترلږه افغانستان سره هرکال د۴ ملياردو ډالرو مرسته دهغو برخه ده .

نتيجه داچې دبروکسل په ناسته کې ناټو دمرستو کوم تعهدپه ډاګه کړی، هغه يو نمايشي ګام دي چې اصلي هدف يې دمهاجرينو او پناه غوښتونکو دهغه سيلاب مخنيوی دی چې اروپا ته ورځلاص او په ډيره تيزی روان دی ، اروپايان فکر کوي چې افغانان به دهمدغو مالي وعدو په مټ تير باسي او دهغې بې ثباتی مخ ته به دشګو بند جوړ کړي کومه چې دناټو او امريکايی اشغال له امله هلته راغلي .

اسلامي امارت

د بخښنې ورپرانيستی دی

سید شریف

اسلامي امارت د يو منظم حکومت په څير جوړښت او بيلابيل ارګانونه او ميکانيزمونه لري، د پوځي، سياسي، فرهنګي، تعليمي، اقتصادي او د دعوت او ارشاد چارو دسمبالښت لپاره ځانګړي کميسيونونه لري، چې د هيواد الو د سوکالۍ او ګران هيواد دخپلواکۍ او اسلامي نظام دقيام په موخه هلي ځلي کوي.

داچې د هيواد په مختلفو برخو خصوصا کندوز او ګاونديو ولايتونو کي يې داسلامي امارت مجاهدينو اوس ډير فتوحات ترلاسه کړي او د نيکه مرغه دهيواد په لر اوبر کي د سوبو لړۍ لا هم جاري ده.

تول هغه هيوادوال چې د يرغلګرو ځواکونو او کابل اداري سره کار او همکاري کوي نور بايد ددغه کرغيړن صف څخه لاس واخلي او دمجاهدينو سره همکاري پيل کړي، ترڅو په دنيا کي د ذلت له مرګ او په اخرت کي دکفارو په ټولۍ کي د را پورته کيدو څخه وژغورل شي.

يرغلګر کافران او دهغوی لاسپوڅي رژيم له پيله داسلام او افغانستان دښمنۍ ته ملاتړلي ده، دوی هڅه کوي چې دافغانستان او افغان ولس تاريخ تحريف او اسلامي او افغاني د ويارې ډک هويت يې مسخه کړي، داپه واقعيت کي د افغانستان د مستعمره کولو ا وتجزيه کولو يوه خطرناکه دسيسه ده، نو ټول هغه هيوادوال چې دافغانستان او افغان مجاهد ولس په درد دردمن دي ديرغلګرو ځواکونو اوګوډاګيانو د توطيو مخه يې بايد ونيسي.

ددښمن د ذکر شوو دسیسو د مخنیوي تر ټولو موثره لار داده چې اسلامي امارت په خپلو معنوي او مادي مرستو سره پیاوړی کړو، ځکه اسلامي امارت ثابته کړې چې یو ځل یې په نویمه لسیزه کې افغانستان د تجزیې څخه وژغوره،ډاډمن امنیت یې تینګ کړ،اسلامي شریعت یې پلي کړ او په ټوله کې مظلومو هیوادوالوته یې د هر اړخیز بحران څخه د نجات لار پرانیستله اوبیا یې پرافغانستان د صلیبي یرغل پرمهال داجنبي قوتونو سره داسلام او هیواد په سر هیڅ ډول سودا ونه کړه، خپل واک،ژوند او هرڅه یې په خطر کې واچول خو داسلام د احکامو نقض یې ونه کړ او دافغان ولس ویاړونه یې داغمن نه کړل.

د اسلامي امارت روانه سپېڅلې مبارزه چې د ګران هیواد د خپلواکۍ او داسلامي نظام د قیام لپاره جاري ده،دښمن په مختلفو نومونو او رنګونو هڅې کوي ددې ویاړمني مبارزې افتخارات دپردیو لمني ته واچوي او دازادۍ ګټلو روان جنګ ته د نیابتي جګړې او نور نومونه ورکړي،هغه کسان چې دکابل اداړې سره کار کوي او یاداستعمار د رواني او تبلیغاتي جګړې څخه اغیزمن شوي وي، دې ته باید ځیر شي چې دکابل رژیم چا دڅه لپاره زیږولی،روزلی او پالي یې؟ لنډ ځواب یې دادی چې استعمار دمسلمانانو دځپلو، دافغانستان اوسیمې داستثمارولو اود خپلو ستراتیژیکو موخو لپاره دکابل اداره پالي او تکمیلوي.

د هیواد درانه علماء، پوهان،متنفذین او قومي مشران بایددکابل رژیم سره همکار او په مختلفو ارګانونو کې بوخت کسان وهڅوي چې ددغه بلواک ا وفاسد رژیم څخه را ووزي،اسلامي امارت چمتو دی ټولو هغو کسانو ته چې دوی یې ضمانت وکړي دسر او مال د حفاظت او ډاډمن ژوند تیرولو تضمین ورکړي .

فتوحات اخیر نمایانگر یکپارچگی و قوّت مجاهدین میباشد

سعید بدخشانی

با وجودیکه موسم سرما فرا رسیده وچادر سفید برف زمستان کوها ودرّها را پوشانیده است باز هم حملات کشنده شیران غرّا وشفتگان دین وایمان بر پیکر دشمنان دین و وطن در گوشه، وکنار کشور همانند فصل گرما بسرعت جریان دارد وبه پیش میرود.

بلی!برخلاف سالیان گذشته امسال بلا وقفه سلسله مبارزات جهادی،تصرف مراکز، قرارگاه ها،پاسگاها،ولسوالی ها وفتوحات چشمگیر وگسترده در اکثر نقاط کشور اعم ازشمال،جنوب،شرق وغرب ادامه دارد این خود بیانگر نصرت الله جل جلاله، قوّت، فداکاری، شهامت ووحدت مجاهدین امارت اسلامی میباشد.

برخی منابع دشمن نیز تأید نمودند که حملات مرگبار طالبان با فرا رسیدن فصل سرما برخلاف سالهای قبلی کند نه بلکی شدت پیدا کرده ونیروهای طالبان با دست باز در مناطق سرد سیر کشورعمل میکنند که این خود یک چالش جدی وخطرناک در برابر عساکروارگانهای امنیتی اداره کابل محسوب میشود.

دراین شکی نیست که مجاهدین وشیرمردان قهرمان امارت اسلامی همزمان با آغاز برف وسرما عملیات وتحرکات خویش را بیش از پیش تشدید بخشیده وبسیار ساحات کشور را از وجود دشمن پاکسازی وتحت پوشش خود درآوردند،بطور نمونه مبارزان شجاع وسلحشور بدخشان (که یک ولایت نهایت سرد سیر ودارای درّه های پرخم وپیچ نیز میباشد)بر ولسوالی استراتیژیک یمگان یورش وحملات تهاجی نمودند که پس از اندک مقاومت مقر ولسوالی، قوماندانی امنیه،امنیت ملی بطور فشرده همه تأسیسات واراضی ولسوالی متذکره رابطور کامل فتح،تعداد عساکر دشمن کشته وزخمی متباقی به کوهای درّه وشنگان این ولسوالی متواری شدند که عده، دیگر عساکرفراری در اثر شدت سرما وماندن در درّه های پر برف وسردی هوا جان باختند،همینگونه چندی بعد در پی یک حمله تاکتیکی دیگر مجاهدین غیور این سرزمین بر بیس وپوستهای دشمن در ساحات شخ وغول وسوچ بالا وپاین

ولسوالی جرم یک بیس ودو پوسته بتصرف نیروهای امارت اسلامی درامد ودشمن از ساحه پا به فرار نهادند،این شهکاریها وپیشرفتها درحالی صورت میگرد که برف با چادر سفید خود دشت ودامان این ولایت را پوشانیده وسرما شدت گرفته است،به واقعیت که این خود نشانگر امداد غیبی،ایمان راسخ وقوّت سربازان اسلام در بدخشان میباشد که عساکر فریب خورده وبزدل اداره مزدور کابل را سراسیمه وازهم پاشیده است.

همچنان یک چرخ بال دشمن درساحه تخت بازار ولسوالی خواجه موسی ولایت فاریاب در پی حملات رسای مجاهدین غیور آن ولایت واژگون گردید که دراین واقعه، نهایت عظیم ومهیب۵تن از عساکر دشمن کشته و۱۵تن دیگر دستگیر وطیاره حریق گرید، این خود یک ضربه نهایت بزرگ ومهم دیگر بر دشمن بود که سردمداران اداره دو سر وبادارانشان را شدیداً تکان داد.

همینطور در بسیار مناطق ولایات غور،تخار،بادغیس وپکتیکا از سوی مجاهدین دلیر وباشهامت امارت اسلامی بر پاسگاها ومراکز دشمن حملات پیهم وهدفمند صورت گرفت که در نتیجه ساحات بی شمار ومراکز زیادی دشمن فتح وبه کنترول مجاهدین درآمد،وسلسله ضربات منسجم وطراحی شده علیه دشمن در تمام نقاط کشور در همین ایام سرما جریان دارد ومتوقف نخواهد شد.

بدون تردید اسلام عزیز غالب است ومغلوب نخواهد شد ،عاقبت پیروزی از آن مسلمانان خواهد بود،من کاملاً متیقنم که در همین عصرکنونی همه شأن،شوکت ودبدبه کفار وخونخواران جهانی در برابر ایمان فولادین وعزم متین ملت های اسلامی به ویژه در برابر ملت کفرشکن وقهرمان افغانستان بشکست فاحش وذلت جبران ناپذیر مواجه شده اند،اقتصادشان به رکود مواجه گردید است، وبرعلاوه که هزاران تن از عساکر منهوس شان در این کشور طعمه مرگ گردید دها تن دیگر شان به امراض روانی مبتلا شدند که فعلاً در بیمارستان های جهان کفر تحت درمان قرار دارند،مگر افغانها چه دارند؟که این همه امپریالیسم جهان خوار را به زانو در آورده اند،فقط ایمان کامل،عزم متین ویکپارچگی ووحدت مجاهدین وملت متدین مرز وبوم این سرزمین است که قدرت های جهان خوار را زبون وشرمسار بیرون میرانند.

یقناً وحدت، صمیمیت، اخلاص، عدالت، اطاعت، انصاف ،ازخودگزری ومتکی بودن به الله بی نیاز رمز موفقیت های دنیوی واخروی میباشد،پس اُمرا،مجاهدین وهمه مسلمانان امور فوق ورمز تعالی وکامیابی را نباید فراموش کنند.

په زابل کې دجګړې اصل اړخونه!

مـوږ دا تـاریخ حقیقـت منـوچې پـه افغانستان کې د صلیبي تـاراکګرو خـلاف په روانې جګړه کې داشغالګروپه پرتله افغانانوتـه دېرزیـات خـانې، مـالي اومعنـوي تاوانونـه وراوړېـدلي دي خوبهرنویرغلګرواوخصوصـاً امریکاتـه چـې کـوم خـانې اومـالي تاوانونـه ورواوښتل هغه هم څه کم ندي بلکې په خپل ذات کې خوراډېرزیات اوستردي.

البتـه بـې سـاری بـه نـه وي ؛ امریکاتـه دجنګونوپه خپل تورتاریخ کې داسې دېرخـاني اومالي تاوانونه وراوښتي دي خوپه خپل تـاریخ کـې یـې دومـره جنـګ نـه ولیـدلی پـه څـومره اوږدجنګ کې چې دلته راښکېل شول.

دامریکـا پـه مشـرۍ کـې دغـربي نـړۍ دښکروروپرضدپه افغانستان کـې دجنـګ مـوده کـابو یـوې نیمـې لسـیزې تـه ورسـېده چـې دادامریکادجنګونوپه تاریخ کې دجنـګ ترټولـو اوږده زمانه ده .

هغه جنګ چې امریکا یې په څو ورځـوکې دګټلوتمه لړله تریوې نیمې لسـیزې پـورې یـې ورتـه اوږدېـدلو دخـانې اومـالي سـترو زیـانونو ترڅنګ معنوي لوی زیان هم وروراوه؛حیثیـت یې دخاوروسره خـاورې شـو؛اعتبارته یـې لـوی تاوان ورسېد؛ پرنړۍ قائم رعـب یـې لـه منځـه ولاړ ؛دجبراووحشت په تـاریخ کـې یـې یوبـل باب هم ورزیـات شـو ؛په نـړۍ کې لازیـات بدنام شول اوددې هرڅه ترڅنګ یې چـې هـیڅ هـم ترلاسـه نکـړل نـو دطالبانوپـه مقابـل کـې دجنګ دګټلونه مایوسه امریکایـانو اومتحـدینو یې د جګړې په جریان کې د طالبانو پـر خـلاف تولې هغه فکري حربې اسـتعمال کـړې چـې لـه املـه یې فکرونه منحرف کیږي او منظم صـفونه ټوټه ـ ټوټه کېږي.

دېـرې زیـاتې هڅـې یـې وکـړې چـې مجاهدین پخپلو کې سره واچوي او دوی ورتـه د سیالګرو په توګه پر لوړه غونـدۍ کښـې؛ پـدې لارکې یې دېرې زیاتې پیسې هم ولګولې .

خوآفرین دطالبانوپه تاریخي استقامت چې امریکاااوټوله صلیبي نړۍ یې پدې هڅوکې ناکامه کړه؛ دامریکا او نوروصلیبي اتحادیانو دټولو شومو پلانونوپه مقابل کې دسد سکندرپه څېرکلک ودرېدل؛ په دېروسختو حالاتوکې یې خپل یووالی وساتلو؛ خپل صف یې ماتېدواوخپل وحدت یې رنګېدوته پرېنښود؛ خپل جهادیې دواحدقیادت په اطاعت کې په داسې ښه شان روان وساتلوچې دښمن پرې هم څوځلې اعتراف کولوته اړشو

نوځکه یې دداخلي اوبهرني اشغالګردښمن په مقابل کې مقاومت له یونه بل کال ته زیاتېد لو او صفونه یې لا زیات منظم اوغښتلې کیدل، د بې اتفاقۍ ، نفاق اوشقاق هېڅ څرک نه لګیده او هر مجاهد د اتفاق لپاره کوښښ کاوه چې په برکت یې دښمن پدې ډګرکې هم دسختې ماتې سره مخامخ اودزیاتې ناهیلۍ ښکارشو چې همدا دټولې نړۍ دمسلمانانولپاره ددېرې خوښۍ وړ او هیله ښونکې خبره وه.

پدې زمور دښمن اوس ښه پوه شویدی چې زمور دکامیابی راز زمورپه وحدت کې مضمردی اوترڅوچې موږیوموټی یوکه دصلیبي داوسني اتحاد نه هم څوچنده ستردښمن سره موترپېریوجنګ اوږد شي رابانديې برلاسۍ کېدای نه شي نوځکه

اوس مکاردښمن له نوروټولولاروخپله توجوراړولی ده اوخپل ټول وسایل یې د دطالبانوترمنځ خپلمنځي اختلافاتو اچولواودجهاددصف ماتولوته ځانګړي کړیدي ؛ ددښمن رسنۍ پدې اړه ډېر پوچ تبلیغات کوي ؛ ډېرله دروغودک راپورونه خپروي ؛ کوچنوخبروته ډېره هوا ورکوي ؛جورنالستیک اصول ترپښولاندې کوي اوحقایق مسخ کوي .

تاسې محترمولوستوالوته به یادوي چې کله اسلامي امارت دامیرالمؤمنین ملامحمد عمرمجاهدرحمه الله تعالی دوفات خبرخپوراوخپل نوی امیر یې اعلان کراوامارت ته منسوبوځلورپنځوتنانوپه بیعت کولوکې تاخیروکړنودښمن دخپلورسنیونه داسلامي امارت پرضد دتبلیغاتي وسیلې په توګه ډېرزیات کارواخست ؛ټول امارت په خپل نوي امیرمتفق اوراټول واو ایله څلورپنځو تنانوپه بیعت کې تاخیرکړی و خو همدا دڅلورو پنځو تنانو تاخیریې په دوه برخو دامارت دویشل کېدلو او دطالبانود وحدت په ماتېدلوتعبیراوه اوپه مسلسل ډول به یې ویل چې ګواکې دټل لپاره طالبان په دوه برخوویشل شول ؛یواخې پدې یې هم بسیا نه کوله بلکې دابه یې هم ویل چې په دوه برخوویشل شوی طالبان په خپلومنځونوکې ښکرپه ښکردي اودهېواد په مختلفوبرخوکې ددواړودلوترمنځ جګړې رامنځته شویدي چې

دواړو لوروته ګڼ ځاني تلفات هم اوښتي دي حال داچې دهېواد په ګوډ ګوډ کې په ډېر جوش اوولولې دنوي امیرسره دبیعت کولولپاره جلسې جوړېدې اوپه لوړه اوټیټه کچه دامارت ټولومسئولینودامارت دنوي زعیم نه خپل اطاعت اعلاناوه .

اوس چې دزابل په شمالي سیمو کې داسلامي امارت دمجاهدینواوداعش ته منسوبو وسلوالو ترمنځ یوه ورځنۍ جګړه رامنځته شوه نومکارردښمن یوخل بیاخپلې رسنۍ داسلامي امارت پرضد دتبلیغاتي وسیلې په توګه وکارولې اوداجنګ یې دامارت دمجاهدینو ترمنځ خپلمنځي شخړه وبلله اودجګړې دواړواړخونوته یې دخورازیاتوځاني تلفاتودوراوښتلودرواغجن خبرونه خپاره کړل .

هواداسلامي امارت مجاهدینو ددېرمجبوریت اواشدضرورت له مخې دهماغه داعش پرضد وسله راپورته کړه چې اسلامي امارت په ګوداګیتوب اوبغاوت تورنوي اوداسلامي امارت مجاهدین مرتدین بولي ؛ په سیمې کې به یې دپیسولپاره خلک تښتول ؛دداعش سره له تړاو لرونکوپرته یې دهرچا مال غنیمت ګڼلو دعامو مسلمانانوښځې به یې تښتولې وینځې به یې ګڼلې اودوینځوپه څېربه یې استخدامولې ؛بې ګناه ولسي وګړي به یې په یواوبل نوم په ډېر بې رحمانه ډول وژل اوداهرڅه به یې عبادت ګڼلو نوځکه به یې په دې اړه دچاتوصې ته هم التفات نه کاوه اودولایت په سطحه دقومي مشرانواودامارت لوړرتبه چارواکونه جوړهینتونه به یې په ډېروسختواودغرورنه په ډکوالفاظوجوابول چې خبره ستړې قومي اومذهبي شخړې ته رسېدلې وه نوداسلامي امارت دتاسیس هدف چې ددغسې وحشتونواوظلمونونه خپل ملت ته نجات ورکول وو اوس یې هم دیوشرعي نظام په حیث دبې چاره مظلومینوپوښتنه کول خپل شرعي مسئولیت باله ځکه یې ددې ظلم پرضد عملی اقدام وکړ.

تېروتجربوته په پام سره اسلامي امارت پدې باورلري چې که ددغسې فتنوپه اړه له غفلت نه کارواخستل شي اوپه وخت یې مخه ونه نیول شي نوخدای مکړه په ټول هېوادکې به د ۹۰ یمې لسیزې نه هم بد حالات رامنځته اوملت به مودلویو بدبختیو سره مخ شي.

اسلامي امارت چې دنړۍ دتاریخ دترټولوسترصلیبي اتحاد سره دتېرې یوې نیمې لسیزې راهیسې په جنګ اخته دی اودا اتحاد یې اوس په ګوندوکړیدی دجهاد صف کې انتشاراوجهادته دمنسوبودلوپرضد دخان اوټول عالم اسلام لپاره ډېر تاوانې بولي او ورنه دخان ساتلو خپل ټول کوښښونه کوي نوځکه یې په ننګرهار، لوګر، غزني اوزابل کې دداعش ډېروکوچنیودلوته سټروفدونه ورواستول اوداسلامي امارت قیادت بغدادي ته خط

واستولوخوچې بغدادي اودلته دې دلودامارت داهڅې په بزدلۍ اوخوف تعبير کړې ؛ دغرورنه په ډک انداز يې ردکړې ؛داسلامي امارت هماغه پاک مجاهدين چې دتېرې کابويوې نيمې لسيزې راهيسې يې داسلام عظيمه شجره په خپلووينوسيرابه اودخپلوسرونوپه قربانۍ يې داسلام اومسلمانانونه دفاع وکړه داعشي- دلې همدامخلص مجاهدين خکه مرتدين وګڼل چې ددوئ تابع نه شول ؛ دهمدې مجاهدينو اوبې ګناه ولس قتل عام پسې يې متې راونغښتې ؛ دننګرهار په شينوارو اونوروسيموکې يې غوندې غونډې قريې له خلکوتخليه اوستر سترکلي يې وسوزول ؛ دسرو داختطافونونه يې خبره دکوچنيانو اومېرمنو تراختطافونو،بې عفته کولواوبيا يې په ډېرې بې رحمۍ وژلوته ورسېده ؛ شرعي لارښوونې يې ترپښولاندې اودين يې دخپل متشدد ذهنيت تابع کړنواسلامي امارت هم دمجبوريت پدې سترعالم کې ددوئ پرضد اقدام کول اړين وبلل خکه چې دژبنيزو، قومي، لساني اومذهبي توپيرونوپرته اسلامي امارت دداسې وحشت نه دخپل ټول ولس ساتنه دخان مسئوليت بولي اودامسئوليت به په کامل جرأت اداکوي .

په عراق اوشام کې دعاموسلمانانوپرضد دداعش ظلم اووحشت له خلکو دمالکي اواسدي لندغرو ظلمونه هېر کړل ؛ داعش دالقاعده هغه مجاهدين هم مرتدين وګڼل چې تصلب اواخلاص يې ټولې نړۍ ته مسلم دی ؛ داسلام دښمنان يې پرېښودل اودهمدې القاعدې پرضد جنګېدل اوله منځه وړل يې لوی جهاد وګڼلو؛کابوکال وراندې چې په شام کې دالقاعده دمشرانو اجلاس روان و وربانديې خانمرګی بريد وکړ اودشام دالقاعدې دهغه مشرپه شمول چې پنځه ويشت کلونه يې په افغانستان کې جهاد کړی وټول قيادت له منځه يورو .

سره له دې چې اسلامي امارت خپله توجوداصل دښمن نه، نه را اړوي ؛ نه داصل اشغالګر دښمن نه پرته دنوروسره جنګ کولوته خوشالېږي اونه ددښمن ارمانونه پوره کېدوته پرېږدي خوددداعشيانوخطرناکې ارادې ،بدې کړنې اودوحشت اوظلم نه ډک شاليدهم له نظره نه غورځوي ؛ ولس اومسلمان ملت دې مطمئن وي چې داسلامي امارت مجاهدين به دخپلو وينواوسرونوپه قربانۍ دشريعت اوشريعت ته دوفاداروسلمانانونه دفاع کوي هيڅاته به دشريعت دفکري ياعملي تحريف اجازه ورنکړي اونه به خپل ولس دکوم ظالم رحم وکرم ته پرېږي ان شاءالله تعالى.

مفتي ابومحمد حقاني

دجهاد فقهي مسائل

جهاد کې محرمات او مکروهات

تبییت یا د کفارو پر وراندې شپنې عملیات

تبییت: په المصباح المنير کې ليکي :چې تبييت مصدر دی او دلغت له حيثه په لاندې معانيو کې استعمال شوی، چې داتولې معنی ګانې نږدي يوې داسې معنی ته راجع کيږي ،چې دشپې مهال ديوه يرغل اوپر دښمن د عملياتي يرغل ښه خپلوي ، لکه دشپې په تياره کې ديوه کار تدبير کول، دشپې مهال ديوه کار په باب کلکله پريکړه کول او دشپې مهال پر دښمن داړه غورځول، لکه پدې عبارت کې چې راغلی دي : مَصْدَرُ بَيَّتَ الأَمْرَ إِذَا دَبَّرَهُ لَيْلا ، وَبَيَّتَ النِّيَّةَ عَلَى الأَمْرِ : إِذَا عَزَمَ عَلَيْهِ لَيْلا فَهِيَ مُبَيَّتَةٌ بِالْفَتْحِ . وَبَيَّتَ الْعَدُوَّ : أَيْ دَاهَمَهُ لَيْلا .

په اصطلاحي معنی کې تبييت دلغوي معنی سره مرادف دی او داوړه سره کوم ډول توپير نلري، وَمِنْهُ قَوْلُه تَعَالَى : { أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَى أَنْ يَأْتِيَهُمْ بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ } (سورة الأعراف / ٩٧ .) .

پردښمن دشپې لخوا ديرغل کولوحکم :

په (الموسوعة الفقية) کې ليکي چې :کله چې ددښمنانو سره دمسلمانانو دسولې معاهده نوي او نه اهل ذمه وي، نودوئ کې چې دچا قتل روا دی، پرهغوئ دشپې مهال حمله هم جايز ده ،البته دوئ به هغه کفار وي، چې يو ځل ورته دعوت هم رسيدلی وي ،او دوئ ترې انکارکړی وي ،همداسې يې له جزيې منلو څخه هم انکار کړی وي، نو پردوئ دشپې لخوا يرغل وروړل روا دي ،امام احمد بن حنبل رح فرمايي: چې بيات يا دشپې لخوا پرکفارو حمله کول باک نلري ،دروم غزوات هم ټول دبيات په شکل ترسره شوي او هيڅا پر دښمن دشپې مهال په برید کولوکوم اعتراض ندی کړی او نه يې پکې دکراهت څه قول کړی دی (قَالَ أَحْمَدُ

رَحِمَهُ اللَّهُ : لا بَأْسَ بِالْبَيَاتِ ، وَهَلْ غَزْوُ الرُّومِ إلا الْبَيَاتُ؟ قَالَ : وَلا نَعْلَمُ أَحَدًا كَرِهَ تَبْيِيتَ الْعَدُوِّ).

صعب بن جثامه رضی الله عنه فرمایي :چې دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اوریدلې دي، چې دمشرکانو داهالیو په باره کې به ترې پوښتنه کیده،چې مونږ پرې دشپې لخوا حمله وکړواوددوئ ښځې او بچیان رانه ووژل شي، دا به څنګه وي؟نو ده صلی الله علیه وسلم به ورته ویل، چې دوئ دهغوئ نه دي ؛ نو که څوک ووایي چې دا نوموړی حدیث دصحیح البخاری او صحیح مسلم ددې حدیث سره څنګه تطبیق کیدای شي ،چې په هغې کې صراحتاً دښځو او ماشومانو له وژلو څخه منع او نهی راغلې لکه پدط عبارت کې : (فَإِنْ قِيلَ : قَدْ نَهَى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالذُّرِّيَّةِ أخرجه البخاري (٦ / ١٤٨ ـ الفتح ـ ط السلفية)، ومسلم (٣ / ١٣٦٤ ـ ط الحلبي)؟، په (المغنی)کې یې ددې پوښتنې داسې ځواب کړی، چې مونږ وایو چې داصحیح ده ،چې دې حدیث کې دکفارو دښځو او ماشومانو له قتل څخه منع شوې ده ،لکن مراد ترې هغه قتل دی او وژنه ده ، چې تعمداً او قصداً وي، نه داچې بالتبع یا یې غیر ارادي قتل رامینځ ته شي ،نو علامه ابن قدامه رح په المغنی کې لیکي چې ددواړو حدیثینو مینځ کې جمع ممکن ده او هغه داسې چې نهی په تعمد باندې حمل ده او اباحت یې ددې نه په غیر په نورو صورتونو کې دی . (کذافی المغني ٨ / ٤٤٩ مطبعة الرياض الحديثة .)

کوم تطبیق چې ددې دواړواحادیثو ترمینځ صاحب د(المغني)کړی دی، د(هدایه شرح فتح القدیر) کې هم (علامه ابن الهمام رح) هم همداسې کړی او هغه هم ویلې چې دکفارو دښځو او ماشومانو وژنه نا جایز ده، او کوم حدیث کې چې د(هم منهم)خبره، چې داباحت حکم ترې معلومیږي، هغه هاغه صورت دی، چې مسلمانانو ته معلومات نوي، چې دلته ګوندې ښځې او ماشومان هم ددې کفارو شته، او قصد او اراده یې هم ددوئ دوژلو نوي کړي، لکه دفتح القدیر پدې عبارت کې چې راغلې: (....فَيَجِبُ دَفْعًا لِلْمُعَارَضَةِ حَمْلُهُ عَلَى مَوْرِدِ السُّؤَالِ وَهُمْ الْمُبَيِّتُونَ ، وَذَلِكَ أَنَّ فِيهِ ضَرُورَةَ عَدَمِ الْعِلْمِ وَالْقَصْدِ إلَى الصِّغَارِ بِأَنْفُسِهِمْ ، لِأَنَّ التَّبْيِيتَ يَكُونُ مَعَهُ ذَلِكَ ، وَالتَّبْيِيتُ هُوَ الْمُسَمَّى فِي عُرْفِنَا بِالْكَبْسَةِ ، وَمَا الظَّنُّ إلَّا أَنَّ حُرْمَةَ قَتْلِ النِّسَاءِ وَالصِّبْيَانِ إجْمَاعٌ. (فتح القدیر ج١٢ص١١٢).

نوددې څېړنې څخه جوته شوه ،چې دکفارو دښځو او ماشومانو وژنه په اجماع سره حرامه شوه ،احناف رح ،حنابله رح وغیره دټولوپدې خبره اتفاق دی او دکوم حدیث شریف نه چې اباحت معلومیږي ،هلته هغه صورتونه مراد د دي، چې مجاهدین یې دقتل ارداه ونکړي ،علم ورته ددوئ په موجودیت نوي او مقصودي حمله پرې ونکړي .

که چیرته دمسلمانانوامام یا جهادي قوماندان اسلام ته له دعوتولو مخکې دشپې مهال پر کفارو حمله وکړه ،ګناهګار دی ،دلیل یې دا آیت کریمه دی چې {فَانْبِذْ إِلَيْهِمْ عَلَى سَوَاءٍ} (سورة الأنفال / ٥٨) .

فقهاووپدې کې سره اختلاف کړی، چې که چیرته قبل الدعوة په تبییت یا شپني بریدکې کوم کافر ومړ،نو آیا ضمان پرې شته که نه ؟ په(الموسوعة الفقهية) کې لیکې :چې احناف او حنابله علماءرح پدې نظر دي ،چې څنګه چې دوئ ایما ن نلري ،نو امان هم نه لري ،نو پر وژونکیو یې کوم ډول ضمان نشته او څینې شوافع رح وایې چې ضمان پرې شته او ددې ضمان دیت او کفاره ورکول دي ، داخبره دامام شافعي رح نه نقل شوي ده ،لکه پدې حوالو کې دا مسئله ښه څرګنده ده (البحر الرائق ٥ / ٨٠ ، وابن عابدين ٣ / ٢٢٣ ، ومطالب أولي النهى شرح غاية المنتهى ٢ / ٥٠٧ ـ ٥٠٨ ، وروضة الطالبين ١٠ / ٢٣٩ ، ومغني المحتاج ٤ / ٢٢٣ ، والمغني لابن قدامة ١٠ / ٣٨٦).

څینې فقهاوو ویلې دي: چې :اهل کتابو او مجوسیانو ته دعوت ورکول واجب ندي، ځکه دوئ ته دعوت رسیدلی دی او ددوئ کتابونو کې دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر پیغمبرۍ بشارتونه ورکړل شوي دي ،نو ددې اړتیا نه لیدل کیږي، چې بیا ورته دعوت له تبییت یا شپني یرغل نه مخکې له واجباتو څخه وشمیرل شي، البته دبت پرستانویا عبدة الاوثانو ته به له حملې نه مخکې دعوت ورکول کیږي (المغني لابن قدامة ١٠ / ٣٨٦).

هو! پر کفارو یا هغو قومونوچې یو کرت مخکې داسلام دعوت ورکول شوي وي ،هغوئ ته دویم ځل دعوت ورکول دمبالغة الانذار دنظریې له مخې مستحب دي او بل ددې لپاره چې دوئ پوه شي، چې مسلمانان پر دوئ حمله ددې لپاره نه کوي، چې ګوندې ددوئ دمالونو یا اولادونو وړې دي، بلکې ددې لپاره چې ورته جوته شي، چې مونږ ددوئ ددین قبلولو تړې یو او ددې لپاره ورسره جهاد کوو،داخبره ثابته ده چې حضرت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم چې کله دخیبر دفتحې بیرغ حضرت علی کرم الله وجهه ته

ورکاوه،نو ورته یې وویل :چې دوئ (اهل خیبر)ته دعوت (داسلام منلو دعوت)ورکړه ،داپداسې حال کې وه ،چې قبلا ورته دعوت رسیدلی وو،لکه دې عبارت کې دي: (وَقَدْ ثَبَتَ " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : أَمَرَ عَلِيًّا حِينَ أَعْطَاهُ الرَّايَةَ يَوْمَ خَيْبَرَ وَبَعَثَهُ إِلَى قِتَالِهِمْ أَنْ يَدْعُوَهُمْ " (" أخرجه البخاري (الفتح ٧ / ٤٧٦ ـ ط السلفية)، وَهُمْ مِمَّنْ بَلَغَتْهُمُ الدَّعْوَةُ).

دویم څل دعوت ورکول یو مستحب عمل دی، واجب ندی ،نو ځکه ددې جواز هم شته ،چې لدې دویم دعوت پرته پرې دشپې مسلمانان غارت وکړي، لکه حضرت محمد صلى الله عليه وسلم چې دشپې مهال پر (بني مصطلق) باندې ددوئ دغفلت پر وخت حمله وکړه،او یا لکه ده صلى الله عليه وسلم چې حضرت اسامه رض ته همداسې امر وکړ(حدیث : " عهد إلى أسامة أن يغير على ابني صباحا " أخرجه ابن سعد في الطبقات (٤ / ٦٦ ـ ط دار صادر) . وإسناده صحيح) .

په (الموسوعة الفقهية) کې بیا لیکي: چې دماشومانو او ښځودعدم قصداو نه ارادې په صورت کې په زیر زمینیو یا تاخانوکې دکفارو وژنه جایز ده ،همداسې پردوئ داوبو بندول او دلارو بندول ،ترڅو تلونکې ورنشي هم روادي او د ادتبییت په معنی سره دی (وكذا يجوز قتل الكفّار في مطمورة إذا لم يقصد النّساء، والصّبيان ونحوهم ، ويجوز قطع المياه عنهم وقطع السّابلة وإن تضمّن ذلك قتل الصّبيان والنّساء، لأنّه في معنى التّبييت السّابق فيه حديث الصّعب بن جثّامة ولأنّ القصد إضعافهم وإرهابهم ليجيبوا داعي الله ، ويجوز الإغارة على علّافيهم وحطّابيهم ونحوهم (الموسوعة الفقهية الكويتية ج١٧ص١٧٣).

نوربیا ....



ایډز

(عبدالله)

د یرغل یوه بله کرغیړنه ډالۍ

ایډز هغه مهلکه ناروغي ده چې هر کال د ملیونونو انسانانو ژوند اخلي، د روغتیا د نړیوال سازمان د راپور په اساس هره ورځ په نړۍ کې ۳۳۰۰ تنه د ایډز له امله ساه ورکوي، یعني ایډز هره دقیقه د یو سړي ژوند اخلي، خو له نیکه مرغه د دې ناروغۍ څخه اسلامي نړۍ تردیره حده خوندي ده، سبب یې دا دی چې په اسلامي نړۍ کې د غرب غوندي بې بندوباره ازادي او فحاشي نشته.

څیړونکي د ایډز عمده علتونه د مخدره موادو اعتیاد، ناخوندي جراحي عملیات او تر ټولو لوی علت یې ناروا جنسي-اړیکي او اخلاقي فساد په ګوته کوي.

اشغالګرو او لاسپوڅي رژیم یې افغانستان او افغان ولس ته خورا ډیر امنیتي، سیاسي، فرهنګي، اقتصادي، صنعتي، اخلاقي او عقیدوي زیانونه واړول، مثلا:

- په بې ۵۲ او ایف ۱۶ الوتکو، کروز راکټونو او خوشیې بمونو یې سلګۍ اوماشومان شهیدان کړل.
- کلي، کورنه، فصلونه او شنه باغونه یې په بمونو او بلدوزونو وران ویجاړ کړل.
- په بهر او داخل کې یې زندانونه د افغان ولس له مختلفو قشرونو، بوډاګانو، ماشومانو او ځوانانو څخه ډک کړل.
- اخلاقي فساد ته یې وده ورکړه، زمینه یې ورته برابره کړه او د لا ترویج په موخه یې مختلف بنسټونه په مختلفو نومونو باندې جوړ کړل.
- اداري فساد یې اوج ته ورساوه، تر دې چې څو ځله افغانستان په نړیواله کچه اداري فساد کې لومړی او دوهم مقام وګاټه.
- قومي او لساني تعصب یې رامنځته کړ، ځینې پردي پال جهتونه او شخصیتونه یې

د دې لپاره اسخدام کړي چې وخت ناوخت د واحد افغان ولس ترمنځ د کرکې او تفرق تخمونه وشيندي.

- په ځلونو يې د مسلمان ملت د مومن به کتاب (قران عظيم الشان) بې عزتي وکړه او د اسلامي ارزښتونو او شعايرو سپکاوی يې تکرار کړ.
- افغان فرهنگ يې تحريف کړ او د غربي منحط او لغړ کلچر د دودولو په موخه يې د مدني او فرهنگي ټولنو په نوم ګنې ګمراه کونکي او پردي پالي پروژې په کار اچولي دي چې افغان ولس په تيره ځوان کهول ته يې لوی تاوانونه رسولي دي.
- د تاريخ د مسخه کولو هڅې يې ګرمې ساتلي.
- مخدرات، (هيروئين، تارياک، چرس او شراب) يې رايج کړي او د پيړ او پلور مارکيټونه يې ورته پرانستلي دي.
- د ايډز مهلکه ناروغي يې د افغانستان پاکې خاورې ته وارده کړه.

د وروستيو راپورونو په اساس دا مهال افغانستان کې تقريبا ۹۰۰۰زره کسان د ايډز په ناروغۍ اخته دي او په زرهاوو نورو کې د ايچ آی وي وايروس ثبت شوی دی، متاسفانه چې د افغان ولس لپاره يو بد خبر دی.

د کابل د روغتيا وزارت په وينا ۸۷۴۱ تنه د ايچ آی وي په مرض ککړ کسان ورسره راجستر شوي دي، ځينې داسي کسان هم شته چې په همدې مرض اخته دي خو د شرم له وجې يې ځانونه نه دي ثبت کړي.

په افغانستان کې د غربي يرغل څخه مخکې ډيرو هيواودالو د ايډز نوم بيخي اوريدلی نه و، خو د اسلامي امارت له سقوط څخه وروسته چې افغانستان ته پورته ذکر شوې ناخوالي او ناتراشي واردې شوې، له جملې يې يوه هم د ايډز تباه کونکې مريضي ده، په بل عبارت ايډز افغانستان ته د يرغل يوه بله کرغيړنه ډالۍ !! ده.

الله تعالی دي ټول امت په تيره افغان مظلوم ولس له دې ناروغۍ څخه وساتي

امين

دا به نو وروستی جګړه وي!

ژباړن :عبدالمالک همت

د نولسمي پیړۍ په وروستیو کې په اروپا کې سیاسي او سیمه ییز حالت په ډېره چټکۍ سره بدلېده، د جرمني صنعتي پرمختګ هغه د اروپا یو سترځواک جوړ کړی و. د جرمني له ویري د اروپا بل سترځواک برتانیه د سیمي د ښلو ښلو ځواکونو ملګري سوه او د راتلونکو کلونو لپاره یې وار له مخي لا تدبیرونه سنجول پیل کړل.

په دې توګه د ښلو ښلو ځواکونو ترمنځ د نوو منطقوي اتحادونو جوړېدل پیل سول. برتانیې لومړی د جاپان سره په ۱۹۰۲ع.کال اتحاد وکړ. تر دې وروسته په ۱۹۰۴ع.کال د برتانیې او فرانسې ترمنځ هم یوه معاهده لاسلیک سوه، چې که څه هم دا یو بنسټیز اتحاد نه وو، خو د نږدې اړیکو د ټینګښت او د یوبل مرستې ته د وړاندګلو لپاره د زښت زیات اهمیت درلودونکې وه. د دغسې دوستۍ یوه بله معاهده دبرتانیې، فرانسې او روس ترمنځ په ۱۹۰۷ع.کال د (The Triple Entente)په نامه لاسلیک سوه، چې له املې یې اروپا پر دوو ګروپونو ووېشل سوه. د دې وېش یو پلو جرمني، اتریش، هنګري (مجارستان)، سربیا او ایتالیه وه او په بل طرف کې یې د روس، فرانسې او برتانیې هیوادونه ولاړ ول.

په بنسټیزه توګه دا د لومړۍ نړۍ والي جګړې لپاره چمتو والی وو، چې کېدای شوه هر وخت یې اور بل شي. لومړۍ نړۍ واله جګړه د شلمي پیړۍ لومړۍ لویه نړۍ واله شخړه هم بلل کېدای شي، خو اساساً دا تر یوې نړۍ والي شخړې زیاته د شلمي پیړۍ لومړۍ لویه نړۍ واله دسیسه وه، چې که څه هم د ۱۹۱۴ع.کال په اګست کې د اتریش د یوه پاچا زوی(شهزاده) فرانز فرډیناند د وژلو له امله پیل شوه، خو د دغې جګړې بنسټ پر دوو ګروپونو باندې د اروپا د وېشلو په بنه د نولسمي پیړۍ په پای کې ایښوول شوی وو. د لومړۍ نړۍ والي جګړې په بهیر کې د

اتحـــادي ځواکونو(برتـــانيې، فرانســـې، سربيـــا او روس، جاپان، ايتاليې، يونان، پرتګـال، رومانيې او امريکـي) مقابلـه د محـــوري ځواکونـــو(جرمني، اتـريش، هنګـري او بلغـاريې) سره وه. د وېرې او ځـواک پـه نشه کې د نړۍ زيات هيوادونـه هـــم د دغـــي جګـــړې برخـــه وګرځېدل، خو د جګړې لومړنۍ جوش او خـروښ هغـه مهـال شوکه شو چې جګـړې د يـوې ډېرې ګران بيـې او د خنـدقونو دهولناک جنګ بڼه غـوره کـړه. ځکه چې په لوېديځ محاذ کـې د خندقونو او کلابندیو لـړۍ تـر ۴۷۵ ميلو پورې غځېدلې وه.

په لومړۍ لويه جګړه کې روس د خپلـو اتحاديـانو د مرسـتې لپاره د بالکان له سـيمې او روم له سمندرګې خـوا پـه تېرېـدو سره وړاندې ته. خو ځنګه چـې د عثماني سلطنت پـر سـيمو او پولو(سرحدونو) باندې د روس له خوا تېرې ترسره کېـدل، نـو عثماني سلطنت اړ شو چـې دې جګړې ته ورودانګې او پرېکـړه يې وکړه ،چې د خپلـو سـيمو د ژغـــورنې لپـــاره د محـــوري ځواکونو ملګرتيا غوره کـړي. د لـــومړۍ نـــړۍ والې جګـــړې پرمهال په ختـيځ محـاذ کـې د سيمې د ډېرې پراختيا له امله د ډېـرو خنـــدقونو سره جګـــړه ممکنه نه شوه، خـو بيـا هـم د دغـې جګـړې شـدت د لوېـديز محاذ سره يوشان وو. دا ځنګـه چې جګړه نه، بلکې يوه دسيسه وه، ځکه نـو داجګړه(دسيسـه) ورو ورو د اروپا له نورو سيمو څخه را ټوله شوه او د عـثماني سلطنت په سيمو کـې محـدوده پاتې شوه. په لوېديز محاذ کـې په بنسټيزه توګه لـومړۍ نـړۍ والـه جګـړه د ۱۹۱۸ع.کـال د نومبر پـر ۱۱مـه د سـهار پـر يوولسو بجو پای ته ورسېده. له جګړې څخه د جرمني تر وتلـو وروسـته د محـوري ځواکونـو ملګري هم د ماتې سره مخـامخ شـول او د جګـړې د اسـاسي مقصد په پـام کـې نيولـو سره اتحـــادي ځواکونـــه د عـــثماني سـلطنت پـه را پرځولـو کـې بريـالي شـول. دې حالـت پـر اسلامي نړۍ باندې ډېـر نـاوړه اغېز وښند. ځنګه چـې عـثماني سلطنت د جرمني ملګـرۍ وو ، ځکه نو د دغې جګړې ډېر لوی تاوان پر عثماني دولـت باونـدي راغی.

انګرېزانو عربـان د ترکـانو پـه خلاف جګړې ته وهڅول او پـه دې توګه په عثماني سلطنت کې د مســـلمانانو تـــرمنځ قـــومي جګړې پيل شوې. په دې جګړو کـې زيـاتې سـيمې د ترکـو د واکمن له لاسه ووتلې او په پـای کې يې د مسلمانانو د يووالي او وحـدت لويـه نخبـه عـثماني خلافت هم له منځـه ولاړ. دغـه نړۍ واله جګـړه خـو ۹۶ کالـه دمخه د ۱۹۱۹ع.کال د جون پر ۲۸ مه د دوارو خواوو ترمنځ تر معاهدې وروسته ودرېده، اما د هغـې اغېـزې پـه نـړۍ والـو، سياسي، اقتصـادي او تـولنيزو ساحو کـې تـر راتلونکـو څـو لسيزو پورې رواني وې.

لومړۍ نړۍ والي جګړې د ظلم او ځناورتوب پېښې او کیسې ډېرې کړې او د زغم او حوصلې جذبې یې خورا ډېرې راکمې کړې. له اتحادي او محوري ځواکونو څخه په دغه پیل سوې جګړه کې کرار کرار د نړۍ ډېر نور ولسونه هم د هغې برخه سوه او په دې توګه ټوله دنیا د دغې جګړې په اور کې وسوځېده. دغه لویه جګړه د دې نړۍ په نوي تاریخ کې تر ټولو زیاته پوپناکوونکې جګړه وه، په کومه کې چې د لومړي ځل لپاره نوې ټکنالوژي وکارول سوه. د لومړي ځل لپاره نړۍ د کیمیاوي او زهرجنو ګازو استعمال ولید. دا لومړنۍ جنګ وو چې پر سمندر سربېره له فضا څخه هم بریدونه پکښې کېدل. په دغه لویه جګړه کې د دواړو خواوو څه له پاسه شل ملیونه پوځیان او عام وګړي له منځه ولاړل او شاوخوا شل ملیونه افراد د تل لپاره معلول او معیوب سول.

درنو لوستونکو! دادی همدا اوس یوځل بیا د لومړۍ لویې جګړې وحشت او ځناورتوب تر سترګو کیږي. هغه نړۍ وال جنګ چې لامل او محرک یې مازي د یوه پاچا زوی وژنه وه او دغه وژنه یې پلمه کړه له یوه پلوه تر شلو ملیونو زیات وګړي د مرګ کومې ته ورټېل وهل سول او له بله پلوه یې له جګړې څخه ډډه کوونکی عثماني سلطنت هم په جګړه ورګډ کړ او ټوته ټوته یې کړ.

په لومړۍ نړۍ واله جګړه کې هم روس د ترکیې پر پولو ټپری وکړ او ترکیه یې په جګړه کې داخلېدو ته اړه کړه او دا دی اوس بیا د لومړۍ نړۍ والي جګړې غوندې د ترکیې پر فضایي حریم باندې ټپری کوونکي مازي د یوې روسي الوتکې د را غورځولو پېښه پلمه کوي نه داچې یوازې د درېیمې نړۍ والي جګړې خبرې کېږي، بلکې د اسلامي نړۍ پر خپلو پښو ولاړ ځواک (ترکیې) د بیا راپرځولو او ماتولو بحثونه روان دي.

دا حقیقت دی چې سل کاله دمخه د اروپا ناروغه وګړي، یعني ترکیې ګرد سره د جګړې کولو ورتیا نه درلوده. دغه لامل وو چې نه ترکیې د اتحادیانو د دسیسو مقابله وکړای شول او نه یې خپلې سیمې وژغورلای شوې. خو روس ته ښایي نه وي معلومه چې اوس ترکیه د اروپا هماغه ناروغ وګړی نه دی، بلکې که څه هم اتومي ځواک نه دی، خو ترکیه د خپلو پالیسیو او اقتصادي پیاورتیا له امله د اسلامي نړۍ مخکښ او ځواکمن هیواد دی. موږ په دې باور لرو ،چې اوس مازي د یوې پېښې په پلمه درېیمه نړۍ واله جګړه نه شي نښلېدلای، خو که خدای مکړه داسې وشوه نو دا به وروستۍ جګړه وي. پای.

مورِ ولې په اسلامي امارت عاشقان یو؟

لیکنه: بدرالدین انګار

لـه اسـلامي امـارت سره مینـه آسـانه مینـه نده!

په دې مینه کې د کور کلي پریښودل شته

پـه دې مینـه کـې د زنـدان تـورو تمبـو تـه ورتلل، په بدن زخمي زخمي کیدل او د دنیا ژوند ته د الوداع ویل شته!

په دې مینه کې تورونه دي

په دې مینه کې تهمتونه دي

پـه دې مینـه کـې لـه خپلـو خپلوانـو او دوستانو له لورې ترټل او رټل شته

خو مورِ ولې دومره دردونه او کړاوونه ګالو ؟

ولې مورِ په اسلامي امارت عاشقان یو ؟

ولې یې له مورِ نه زړه وړی ؟

ولې مو زړونه نه تړي صبرېږي ؟

ولې یې په مینه کې د زړګي نرۍ نرۍ درد راته د دنیا له ټولو لذتونو خوندور ښکاري ؟

مورِ ملامت نه یو

د اسلامي امارت ښکلا یرغلیزه ده

په هر سپیځلي زړه برید کوي

هر زړه له ځان سره یرغمل کوي

هـر زړه یـې د مینـې پـه لومـه کـې ژر راګیر کیږي

اسـلامي امـارت د ځوریـدلو افغانـانو لـه سر څخه د شر او فساد خپسه لرې کړه

هغه خپسه چې د دوی ژوند یې تنګ کړی ؤ

د دوی په مرۍ یې پښه ایښې وه

اسلامي امارت زمورِ ځوریدلی ولس بنـد پـه بند له بېلیدو نه وژغوره او په سینه ناسته د تجزیـې بدرنګـه بـلا یـې پرمخـې پـه ځمکـه راوویشته

اسلامي امارت زمور د ځوريدلي ولس له ګډ کور افغانستان څخه د بيت المال لوټ شوي مالونه بيرته راټول کړل ، ظالمان ، د تيريګرو او لارې وهونکو له لاسه يې د ظلم خنجر واخيست

ټول ګټې تأسيسات يې په پښو ودرول ، فساد يې نابود کړ او د يو پياوړي مرکزي حکومت په کوټر يې د انارشي له رنځ نه د افغانانو رنځ ټيکور کړ

اسلامي امارت زمور ځوريدلی او ترهيدلی ولس د اسلامي شرعي نظام له يخ سيوري لاندې دمه کړ

اسلامي امارت زمور د ځوريدلي ولس ټولنيز مرضونه د امربالمعروف او نهی عن المنکر په درملو درمان کړل

اسلامي امارت زمور په ولس کې د ملا او مکتبي تر منځ توپير ورک کړ او د مدرسې او مکتب تر منځ يې د توازن کرښه راوباسله

اسلامي امارت زمور د ولس صورت او سيرت په نبوي سننو ښکلی کړ.

اسلامي امارت زمور د محبوب مدني جانان صلی الله عليه وسلم د وطن پرديسان په خپله غيږ کې ونيول د ترحم او شفقت لاس يې پرې راتير کړ.

اسلامي امارت امت له پيړيو وروسته د اسلامي نظام د پلي کولو په خوند پوه کړ ، نوی ژوند يې وروبښه او دې ته يې چمتو کړ چې د ظالم ګريوان ته د خپلو تروړل شوو حقوقو د اعادې لپاره لاس ورواچوي.

اسلامي امارت د هر مظلوم مسلمان اوښکې پاکې کړې او د دوی په حق کې يې غږ اوچت کړ

اسلامي امارت خپل ځان څو پرديسو مسلمانانو ته سپيلنی کړ خو دوی يې کفارو ته په لاس ورنکړل.

اسلامي امارت د کليسا په شپيلي راوتلی صليبي ښامار ټوکر او بيرته يې په خپل غار ننويست.

اسلامي امارت د ملا محمد عمر مجاهد رحمه الله او ملا اختر محمد منصور حفظه الله په څېر سپيڅلي ، غيرتي ، زړه سوانده ، د امت په درد دردمن او د امت يووالي ته ژمن زعيمان امت ته وړاندې کړل.

داسې زعيمان چې د امت شمله يې هسکه کړه ، تل به امت پرې ويار او سراسر افتخار او ويار دي.

د هیواد د زخمونو یوګمنام طبیب وفات شو

قاري حبیب

تېرکال همدا شپې ورځې وې،چې له مرحوم ملا الله داد طبیب سره مې لیدنه وشوه،د نوموړي نوم مې له دیر پخوا د طالبانو له شریعت غږ رادیو اوریدلی و،خو مخامخ مجلس مې ورسره نه و شوی،ملا الله داد طبیب چې پنځه کال د افغانستان د مخابراتو وزیر پاته شوی و، په یوه عادي او په غالب ګومان کرایي کور کې اوسېده،دده د کور او نورو خلکو د کورونو ترمنځ کوم توپیر نه و، له خبرو، ظاهري چلند او اقتصادي حالت ځخه هم داسې نه بریښیده چې دا سړی دی یو وخت د کوم هیواد وزیر پاته شوی وي،دغه مهال چې د معدې سرطان ځپلی و رنګ یې زیړ تښتیدلی او د خبرو په مهال یې ژبه وچه وچه کیدله.

ملا الله داد طبیب آرام ، متواضع او سنګین شخص و، په ځو ساعته مجلس کې یې د هیواد د مخابراتو په اړه داسې معلومات راکړل لکه له کوم کتاب یا الیکلیو یادابښتونو له مخې چې غږیږي،د افغانستان د مخابراتي سیستم په برخه کې د ورانیو او ملي شتمنیو د تباهۍ کیسه یې په دیر افسوس وکړه، ویې ویل چې په کابل کې د طالبانو د حکومت له پیل سره دمخابراتو وزارت په داسې حال کې وروسپارل شو،چې د هیواد د مخابراتي سیستم اتیا فیصده امکانات په داسې دول له منځه تللي و چې حتی د ټیلفوني لین د انتقال پایې هم په برقي ارو باندې غوځې شوې او د کبار په بیه پلورل شوي وې.

ده وویل چې د طالبانو د واکمنۍ له پیل سره یې د مخابراتو په برخه کې کار له صفر څخه شروع کړ،په لومړي ځل یې په لویو ښارونو کې د بې سیم او رادیو ریلي زړې دستګاوې ترمیم کړې چې په توسط یې د ولایتي مرکزونو ترمنځ اړیکي فعالې شوې وروسته یې له نړۍ سره د افغانستان د مخابراتي اړیکو دنښلولو لپاره په کابل کې د مایکروویف زور سیستم فعال کړ چې د ننګرهار او پیښور له لارې یې هیواد له نړۍ سره وتاړه.

خو ځرنګه چې د هیواد مخابراتي سیستم دیر زور او د استهلاک پراو یې بشپړ کړی و تردې چې د ترمیم لپاره یې پرزې هم نه پیدا کیدلې نو ځکه د اتصالاتو په برخه کې د نویو سیستمونو په فعالولو غور وشو، چې په ټولو لویو ښارونو کې د ډیجیټل تیلفونونواو یا انټرکم شبکې فعالې شوې چې هرې یوې زرګونه لینونه درلودل او هیوادوالو ته یې له کلونو وروسته د تیلفوني اړیکو زمینه برابره کړه.

